# An Analytical Study of Swat Namah of Khushhal Khan Khattak

## د خوشحال خان خټک د سوات نامی تنقیدی جائیزه

Syed Wali Shah[1] Haider Nawaz[2]

**_ABSTRACT_**

*Khushhal Khan Khatak was one of the great Pashto poets and writers. He wrote a number of voluminous books in both prose and poetry. Swat Namah is one of his famous books which has been composed in peotical verses. In this book, Khushhal Khan Khattak expressed his views which he observed during his visit and stay at Swat. He has criticized the living standard of the inhibitants of Swat, their religious activities, economic position, structure of the society and leading personalities. Mostly, his criticism was biased and based on misconceptions, grievances and resentments, and were beyond the reach of the reality. As a riposte of Swat Namah of Khushhal Khan Khattak, Rahim Shah Rahim wrote a book versed peoticallt entitled 'Swat Namah Jawab Namah' which has clarified all the misconceptions, grievances and resentments described by Khushhal Khan Khattak in his book. This paper deals with a research based analysis of both Swat Namah and Swat Namah Jawab Namah.*

Key words: Khushhal Khan Khattak, Rahim Shah Rahim, Swat Namah, Swat Namah Jawab Namah, socio- political and religious conditions.

[1] MPhil Scholar in History, Department of History, Quaid I Azam University, Islamabad
[2] MPhil Scholar in History, Department of History, Quaid I Azam University, Islamabad

خټک د پښتنو یوه قبیله ده. کومه چې نن هم په خټکو پادیږي په جنوبي وزیرستان کښې اباده وه. کله چې اکبر بادشاه په کال ۱۵۸۱ء کښي اټک ته راغے نو ده خټکو د قبیلي یو مشهور شخصیت اکوړے یي د شاهراه پېښور او کابل نګهبان مقرر کړو. اکوړي یو مرکز قائم کړو چې په سرائے اکوړے یا اکوړے خټک یادیګي[1].

رحمت په اکوړي چې ئې اونیوۀ ځاے د سرائے

چه ښه فهم ئے وکړي باور وکړه ځائے دے ځائے

خوشحال خان خټک د مغل شهنشاه نورالدین جهانګیر (۱۶۲۷-۱۶۰۵) په عهد حکومت کښې په ربیع الثاني ۱۰۲۲ هجري/بمطابق جون ۱۶۱۳ کښې د شهباز خان خټک کره په اکوړه خټک کښې پېدا شوے وو.[3] د علم او فن سړے وو. ډېر کتابونه ئې لیکلي دي په هغي کښي یو مشهور کتاب "سوات نامه" دے. په سوات نامه د بحث نه مخکښي ضروري ده چې د مغلو، خټکو او یوسفزو په تعلقاتو لګ بحث اوکړے شي.

**د مغل، خټک او یوسفزو تعلقات**

یوسفزي په خپله زورورتیا، ډېروالي، د علاقي وسعت او زرخېزی په وجه په ټول افغان کښي د اوچتي مرتبي مالکان وو.[4] یوسفزي چې په پښتنو کښي مشهوره او لویه قبیله وه. په کابل کښي آباده وه. خو بیا روسته د څه مصلحت له کبله ئې د کابل نه پېښور ته هجرت اوکړو او دغلته اباد شول.[5] شپاړسمه صدي د سوات په تاریخ کښي یوه فېصله کن بدلون وو کله چې یوسفزو سلطان اویس له ماتے ورکړو[6] او د سوات څه حصه ئې په قبضه کښي راغله، او دغه شان څه موده پس یوسفزو د مغل بادشاه همایون په عهد حکومت کښي سواتي پښتانه په هجرت کولو مجبوره کړل او یوسفزي په سوات قبضه کولو کښي بریالي شول.

یوسفزي همیشه د مغلو دپاره غټ سر خوګې وو.[7] ځکه چې د مغلو همېشه دا کوشش وو چې یوسفزي خپل ماتحت جوړ کړي له دي وجې د دوي او د مغلو په مېنځ کښي مختلف جنګونه شوي وو. که یو طرف ته یوسفزي د هغوي چه ملګري وو ځوک چې د مغلو خلاف وو، نو بل طرف ته خټک د هغوي ملګرتیا کوله ځوک چې د مغلو سره جوړ وو. دا سلسله د اکوړي نه تر خوشحال خان پورې وه . له دي وجې خټک او یوسفزي د یو بل خلاف وو او دغه شان د خټکو او یوسفزو په مېنځ کښي خانداني او قبائېلي دشمني روانه وه.[8]

**د خوشحال خان خټک سوات ته راتګ**

شهباز خان خټک (د خوشحال خان خټک پلار) په کال ۱۶۴۱ کښي د یوسفزو خلاف په یو جنګ کښي مړشو. دکومي نه روستوچې خوشحال خان خټک په کال ۱۶۴۹ کښي د مغل بادشاه شاه جهان له طرفه د خپلي قبیلي په متفقه

توګه مشر مقرر کړے شو.[15] د دی سره سره خوشحال خان خټک د مغلو منصبدار او د یوسفزو لپاره زهری قاتل هم وو.

کله چي د شاه جهان ځوے اورنګزېب بادشاه شو نو خوشحال خان خټک د هغه هم وفادار وو۔[17] د خوشحال خان خټک وفاداري د دي نه معلومیږي چي کله اورنګزېب بادشاه کیدو نو خوشحال خان خټک د اورنګزېب سره د هغه د نورو رونو خلاف اوګه په اوګه ولاړ وو او خپل ځان ئي د مغلو خدمت ته سپارلے وو۔ خو د دي باوجود هغه د درباري سازشونو ښکار شو. د الله بخش یوسفی د و وائینه مطابق خوشحال خان خټک بغېر د څه الزامه[16] په جمادي الثاني کال ۱۰۷۴ هجري بماطابق ۱۶۶۴ کښي ونیولے شو او دهلي ته په زنځیرونو کښي بوستلے شو۔ د خوشحال خان خټک شعر دے:

په دوران د اورنګزېب بادشاه په بند شوم

بې تقصیره بے ګناه درد مند شوم[18]

بل ځاے وائي۔

له بګرامه پښي ترلي

هندوستان لره روان شوم

په دهلي په رنتمبور کښي

دري ځلور کاله حیران شوم[19]

اګر چي د خوشحال خان خټک د وائینه مطابق هغه بغېر د څه الزامه قېد کړلے شوے وو خو بیا هم د خوشحال خان خټک د قېدوبند څه وجوهات وو چي د هغي دلته بیانول نامناسبه دي. د قېدوبند نه روستو چي کله په کال ۱۰۷۱/۱۶۶۸ کښي آزاد شو نو د مغل نه ئي کیله وه خو بیا هم عملي مخلافت ته تیار نه وو ۔ لکه څنګه چي خوشحال خان خټک پخپله ګویا دے

د فساد فکر مے نشته خدائے حاضر دے

خپل ساعت به تېروم عمر اخر دے[20]

خو چي کله مغلو د خوشحال خان خټک په کورني کښي ګوتي وهل شروع کړل نو هغه د مغلو عملي مخالفت ته تیار شو ۔[21] او د مغلو خلاف لښکر جمع کوولو لپاره د پښتنو د علاقو مخه وکړه لکه چي څه رنګه خوشحال خان خټک وائي۔

نن د واړه پښتنو په ننګ ولاړ یم

دا چې هسې په هر در هر درنګ ولاړ يم[22]

او چې کله خوشحال خان خټک د خپلې قبېلې نه خفه شو نو سوات طرف ته ئې اراده وکړه په دې غرض چې يوسفزي د مغلو خلاف هم د ځان سره ملګري کړي.

چې د ننګ توره دې واخسته خوشحاله

درومه سوات ته څه خټک څه ئې لښکرې[23]

او دغه شان خوشحال خان خټک سوات ته په (اګست ١۶٧۵) کښې راغے. سواتې يوسفزو د خوشحال خان خټک ښه مېلمستېا اوکړه[24] او دلته ئې د خلقو سره جرګې اوکړې[25] . په کومو که چې يوسفزو خوشحال خان خټک له د لښکر ورکولو وعده کړې وه[26].

اووه مياشتې يم په سوات کښې ګرځېدلے

همه واړو دے عظيم سوګند خوړلے

خو په دې مېنځ کښې خوشحال خان خټک د سياسي مقاصدو په ځائے په مذهبي اختلافاتو کښې لګيا شو او د اخوند درويزه په کتاب "مخزن الاسلام" باندې ئې اعتراضات شروع کړل. خټک او يوسفزي هسې هم د يو بل خلاف وو او کله چې خوشحال خان خټک په مخزن الاسلام اعتراضات شروع کړل نو د هغې متل کارئې اوکو چه هوسی هسې ګړندی وه او څه يې ورته ګنګرې په ښپو کړل.

د خوشحال خان خټک په دې اعتراضاتو د سوات حالات ناسازګار شول او چې کله هغه د حالاتو په نزاکت پوهه شو نو د سوات نه په خپل مقصد کښې ناکامه لاړشو.[28] د مندنړو په علاقه برومول نومې کلې کښې مېشته شو او سوات نامه نومې کتاب ئې اوليکو.

## سوات نامه او د سوات نامې موضوعات

سوات نامه د خوشحال خان خټک يو وړوکے منظوم کتاب دے چې په څلور سوه او نهه اويا (۴٧٩) بېتونو مشتمل دے.[29] په اول فصل کښې خوشحال خان خټک د شاه جهان بادشاه دور، په هغې کښې خپل حالات زار، د سوات طبعي او جغرافيائي حالات، د سوات اب و هوا، عمارتونه او د سوات په ښکار بحث کړے دے.

دويم فصل کښې هغه د اورنګزېب د دورځنې واقعات، خپل قېدوبند، د مغلو خلاف لښکر جمع کول او د مغلو سره جنګونه ذکر کړي دې. د دې نه روستو هغه د سوات د عامو خلقو مذهبي، سماجي حالات، کار کسب، خوي خصلت، رسم ورواج، عقل، سوچ او پوهه ډېر په بے باکه انداز بيان کړي دې.

بیا هغه خپل بحث مخ په وړاندي بوستے دے او د سوات د خاصو خلقو یعني خانانو، ملکانانو، عالمانو او شیخانو حالات ئي ډېر په تنګ نظرئ سره بیان کړي دي او ورسره ئي هر یو خان او ملک په نوم یاد کړے دے۔

ددي نه روستو هغه د اخونددرویزه په کتاب "مخزن الاسلام" اعتراضات ،د میاں نور سره مناظره او د میاں نور او د خوشحال خان خټک د روغي جوړي بحث کړے دے۔ او په اخره حصه کښي هغه پیر روښان او د هغه کتاب "خیرالبیان" د خپل تنقیېد نښه جوړه کړي ده۔ لنډه دا چي سوات نامه د خوشحال خان خټک د جذباتو یوه ائینه ده۔۳۰

**جائېزه**

د خوشحال خان خټک د وائینه مطابق هغه په سوات کښي تقریباً اووه میاشتي اوګرځېدو. د سوات د خلقو ئي شه ننداره اوکړه او د هغي نه روستو یي سوات نامه اولیکله. که یو طرف ته خوشحال خان خټک د سوات طبعي جغرافیه ، اب وهوا، د سوات سیند او د هغي پېداوار وغیره ذکر کړي دي نو ورسره ئي د دي ځائے د اوسیدونکو مذهب ، رسم ورواج ، عقائد، معاشره او روزمره کار کسب د تنقید نښه جوړه کړي ده او اعتراضات ئي پري کړي دي۔ اګر چي د خوشحال خان خټک څه اعتراضات تر څه حده پوري ټهیک دي خو ددي ټولو مطلب به هرګز دا نه وي چه دا ټول اعراضات حق او سچ دي۔

۱۔ خوشحال خان خټک وایي چي د سوات خلق په خوله کلمه لولي مسلمانان دي خو په عهد او قول بے ایمان دي. د خوشحال خان خټک دا اعتراض د حقیقت سره څه مناسبت نه لري. ځکه چي کله خوشحال خان خټک سوات ته راغے او یوسفزو ورسره د لښکر څوګند پورته کړو نو هم هغه شان ئي ورله لښکر تیار کړو۔ کومو چي د هغه په نګرانی کښي د مغلو په یوه قلع حمله اوکړه او تقریباً څلوېښت(۴۰) مغل ئي پکښي وژلي وو ۔ هم دا وجه ده چي رحیم شاه رحیم د خوشحال خان خټک د دي اعتراض په جواب کښي وائي۔

درست د سوات عالم سني مسلمانان دي

یوه ژبه یو خوله عهد و پېمان دي۳۲

۲۔ دویم اعتراض خوشحال خان خټک د دي خلقو په مطلب پرستی او ننګ و ناموس کړے دے خو داهم بے بنیاد دے۔ کله چي خوشحال خان خټک د مغل په قیدوبند کښي وو او د مغل نه ئي کورنی ته خطره وه نو یوسفزو بغیر د څه مطلب نه د ننګ او پښتو له وجي د خوشحال خان کورنی سره د سلو نورو کورونو له په خپله علاقه کښي پناه ورکړه او خوشحال خان خټک ئي په دي مجبوره کړو۔

شاباش په هغه چه د ننګ کار وکا پالل

راغله یوسفزیه لکه پیښ شه کار مشکل[۳۳]

۳۔ بل اعتراض د خوشحال خان خټک دا دے چې دا خلق د پېسو په لالچ په اصل او بد اصل نه دي خو خور لور واده کئی ۔ اول خو دا رواج د سوات په یوسفزو کښي نه وو. اوکه چرې ووهم نو ددې خپل یو شه اثر وو څه ته چې په پښتو کښي "ولور" وئیلے کیږي۔

کاسیره د لور او خور په واده ناخلي

دېن د رب په مقابل دبنده ناخلي[۳۴]

۴۔ که یو طرف ته د خوشحال خان خټک اعتراض د میراث په باره کښي تهیک دے نو بل طرف ته د هغې دور په ارض تقسیم هم لږ غور پکار دے۔ د خوشحال په دور کښي په سوات د شیخ ملي د ګرځنده ویش نظام وو۔ دا خبره هم د غور قابېله دا چې د خټکو د قبېلي پخپله دا رواج وو چې په میراث کښي به یې خور لور حصه نه ورکوله.[۳۵]

۵ــ بل اعتراض خوشحال خان خټک د دي خلقو په خوي خصلت یعني ادب او تمیز کړے دے خوکه د خوشحال خان خټک په مثال که غور اوکړے شي نو ددې خبرې اندازه تري کیږي چې هغه د تبې د تاوه وو۔[۳۶]

۵۔ که یو طرف ته خوشحال خان خټک د دي خلقو په مېلمستیا اعتراض کړے نو بل طرف ته د پښتنو په علاقو د مېلمه تصور تر درې ورځو پورې وي۔ چونکه خوشحال په سوات کښي تقربیا اووه میاشتي تېرې کړې وي او ورسره دا هغه مېلمه وو څوک چې د یوسفزو لپاره زهرې قاتل وو نو دا اعتراض هم بے بنېاده دے۔ خوشحال پخپله ګویا دے۔

که د سمې که دغره دي یوسفزي

همګے زمرې دي مه ئې وې زوال[۳۶]

۶۔ دغه شان خوشحال خان خټک د عامو خلقو نه علاوه د سوات مذهبي او سیاسي خلق هم په بے باک اندازه کښي بیان کړي دي۔

ملکان، خانان ئې کل واړه خران دي

عالمان، شیخان ئې واړه جاهلان دي[۳۷]

خو د خوشحال خان خټک دا اعتراض هم بے بنېاده دے. که د ملکانانو او خانانو خبره اوکړے شي نو هم دا خلق وو چې خوشحال خان خټک له ئې سوات ته د راتلو دعوت ورکړے وو او ورسره د مغلو خلاف جنګ ته تېار وو۔ او که د مذهبي خلقو بحث اوکړے شي نو شه پوهه او عالم فاضل خلق وو۔ د اسلام لپاره ئې ډېرې قربانۍ ورکړې دي۔ څه رنګه چې

انعام الرحیم په خپل کتاب ، *سوات سماجي جغرافیه قبائلیت او جدیدیت کے درمیان* کښي لیکي:

مدین او بشام کے علاقوں کے بارے میں کها جاتا هے۔ که یه جهاد کے ذریعے لے گے هیں۔ اور اج بهی ان جهادی اکابیرین کی اولاد (میاں گاں) یهاں آباد هیں۔ [۳۸]

یو بل شاعر نصرالله نصر وائي

ستا (سوات) په پاکه زمکه اولیاوو پلونه اېښي دي

ته د بے دینی نه څانته لری یو چهان لري

ستا په هر یو گټ کښي د اسلام روښانه شمعي دي

ته د تمام هند دپاره زیرے د ایمان لرې[۴۲]

او بیا خوشحال خان خټک وائي

دا چي وائم دا زه نه یم دا مي زړه دے

زما زړه د چه د زړه سره سم نه دے

چي ښه کړے زما زړه دے کله بد دے

چي بد کړے زما زړه د هغي رد دے[۴۳]

د خوشحال خان خټک د کتاب "سوات نامه" یو ښه تصویر کشي رحیم شاه رحیم څه په دي الفاظو کښي کړي ده

پکښي ذکر ئي د سوات کړے بې شانه

څه گیلې دي څه خفگان دے د هر خوانه

د سوات خلق ئي ویستلي ټول د دېن نه

خارج کړي ئي د شرعي د آئېن نه

د جهان واړه عیبونه ئي شمېرلي

هغه ټول ئي په سواتیانو ورتپلي

کار روزگار دے که مذهب دے که رواج دے

خوشحال خان وائي بې دېنه ټول سماج دے[۴۴]

او بیا د خوشحال خان خټک د اعتراضاتو په باره کښي وائي

د خوشحال اعتراضات دي ټول بې ځایه

ده سنجلی د دې ځائے حالات د ورایه[۴۵]

که یو طرف ته خوشحال خان یو ښه شاعر او لیکوال وو نو بل طرف ته د جذباتو یو سمندر وو او ورسره ئې په طبیعت کښې تیزي وه. که په یو ساعت د چه نه خفه شوے نو لیکل ئې پرې کړې او په بے باکه انداز کښې ئې ورله غندنه کړې، نو په بل ساعت کښې بیا پخپله په خوله شوے. تر دې چه کله د خپلو ځامنو نه خفه شو نو تر د مرګه پورې ئې بیا نه دي معاف کړي.

کله خپل خټک په څو رنګه ستائېلي

کله بیا د ډېره سوخته ټول کنزلي

د خوشحال د جذباتو یو ښه مثال سوات نامه ده. مونږ که چرې دغه شان د خوشحال "سوات نامه" او د رحیم شاه "سوات نامه جواب نامه" په هر یو شعر بحث کوو او د هر یو شعر تاریخي، سیاسي، مذهبي او سماجي اړخونه ګورو نو ددې راغونډول به ډېر ګران وی. دا موضوع د یوې تفضېلې سېړنې غوښتنه کوي- زمونږ دا کار صرف خوشحال خان د اعتراضانو او د رحیم شاه د دغې اعتراضاتو د جوابونو یوه خاکه ده. امېد لرم چې یقیناً په راراوان وخت کښې په دې موضوع ښه تفصېلي بحثونه کېږي.

## حوالې


۱.پیر معظم شاه، *تواریخ حافظ رحمت خانی* (پشاور: پشتو اکېډمي، پشاور یونیورستي، ۱۹۷۶) ص.۶۰۶-۶۰۷.

۲.*ارمغان خوشحال مقدمه میاں سید رسول رسا* (پشاور: یونیورستي بک ایجنسی ، ۲۰۰۸)، ص.۸.

۳.دوست محمد خان کامل مومند، *خوشحال خان خټک (سوانح حیات اور آدبي آثار پر تبصره)* (اردو) (پشاور: شاهین بکس) ۲۰۰۶، ص.۶۰.

۴.هم دغه کتاب، ص. ۲۲۲.

۵۔ محمد آصف خان، *تاریخ ریاست سوات و سوانح حیات بانی ریاست سوات میاں گل عبدالودود* (اردو) (مینگورہ: شعیب سنز پبلیشرز،۲۰۱۶) ص۔ ۳۴۔

۶۔سلطان روم، *ریاست سوات* مترجم پروفیسر احمد فواد (اردو) (مینگورہ: شعیب سنز پبلیشرز، ۲۰۱۳) ص۔ ۳۶۔

۷۔میرمن ریتا جوشي، *افغاني سردار او مغل (۱۵۲۶-۱۷۰۷)* (جلال آباد: کاوون کمپیوټر جلال آباد، ۲۰۰۱) مخ۔ ۱۶۰۔

۸۔ Caroe, Olaf., *The Pathans: 550BC—AD1957*. Reprint, Oxford University Press, Karachi, 2006, p. 231.

۹۔ سلطان روم، *ریاست سوات*، مترجم پروفیسر احمد فواد، ص۔ ۴۳۔

۱۰۔ رحیم شاہ رحیم، *سوات نامه جواب نامه*، (مینگورہ: شعیب سنز پبلیشرز ،۲۰۰۶) مخ۔ ۸۔

۱۱۔ سلطان روم، *ریاست سوات*،مترجم پروفیسراحمد فواد،ص۔ ۴۳۔

۱۲۔، سید عبدالاحد شاہ ترمیذی سیفی نقشبندی، *تذکرہ سادات ترمذی* (اردو) (لاهور: الواثق اردو بازار، ۲۰۱۳) ص۔ ۱۱۱۔

۱۳۔ رحیم، *سوات نامه جواب نامه*، مخ۔ ۷۔

۱۴ Shakeel Ahmad with preface Raj Wali Shah, *Swat Nama of Khushal Khan Khattak*, Pashto Academy University of Peshawar, p. 34.

۱۵. Careo, *The Pathans*, p.231.

۱۶۔اللہ بخش یوسفي، *یوسف زے* (اردو) (کراچی: محمد علی ایجوکیشن سوسائٹي، ۱۹۶۹) ص۔ ۲۷۷۔

۱۷۔ مومند، *خوشحال خان ختک*، ص۔ ۱۲۸۔

۱۸۔ Ahmad, *Swat Nama of Khushal Khan Khattak*, p. 8.

۱۹۔ مومند، *خوشحال خان ختک*، ص۔ ۱۷۴۔

۲۰۔سید بهادرشاه ظفرکاکاخېل ، *پښتانه د تاریخ په رڼا کښې* (پشاور: یونیورسټي بک ایجنسی، ۲۰۰۴) مخ۔ ۶۱۲۔

۲۱۔ هم دغه کتاب، مخ۔ ۶۱۳۔

۲۲۔ Ahmad, *Swat Nama of Khushal Khan Khattak*, p. 10.

۲۳۔ خوشحال خان ختک، د *خوشحال خان ختک کلیات مرتبه دوست محمد خان کامل مومند*، جلد۳ (پشاور: اداره اشاعت سرحد، ۱۹۴۰) ، ص. ۵۹۔

۲۴۔ خان، *تواریخ حافظ رحمت خانی*، ص. ۱۵۸

۲۵۔ کاکاخېل، *پښتانه د تاریخ په رڼا کښې*، مخ. ۶۱۷۔

۲۶۔ هم دغه کتاب، هم دغه مخ ۔

۲۷۔ Ahmad, *Swat Nama of Khushal Khan Khattak*, p.13.

۲۸۔ رحیم، *سوات نامه جواب نامه*، مخ. ۱۰۔

۲۹۔ Ahmad, *Swat Nama of Khushal Khan Khattak*, p.15.

۳۰۔ کاکاخېل، *پښتانه د تاریخ په رڼا کښې*، مخ. ۶۱۷۔

۳۱۔ یوسفی، یوسف زے، ص. ۲۷۹۔

۳۲۔ رحیم، *سوات نامه جواب نامه*، مخ. ۱۵۷۔

۳۳۔ مومند، *خوشحال خان ختک*، مخ. ۱۳۴۔

۳۴۔ رحیم، *سوات نامه جواب نامه*، مخ. ۱۵۶۔

۳۵۔ هم دغه کتاب، هم دغه مخ ۔

۳۶۔ اے.جي. هستنگر، تاریخ پشاور (لاهور: گلوب پبلشرز)، ص. ۳۹۹.

۳۷۔ Ahamd, *Swat Nama of Khushal Khan Khattak*, p.25.

۳۸۔ د *خوشحال خان ختک کلیات مرتب دوست محمد خان کامل مومند*، جلد دویم، ص. ۳۸۔

۳۹۔ هم دغه کتاب ۔ ص. ۲۷۔

۴۰۔ انعام الرحیم، ایلن ویارو، *سوات سماجي جغرافیه قبائلیت او جدیدیت کے درمیان* (اردو) (لاهور: موتروے پریس ، ۲۰۰۵) ص. ۱۰۲۔

۴۱۔ محمد پرویش شاهېن، د *سوات گلونه* (مینگوره: شعېب سنز پبلیشرز، ۱۹۸۸) مخ. ۸۵۔

۴۲۔ Ahmad, *Swat Nama of Khushal Khan Khattak*, p.64.

۴۳۔ رحیم، *سوات نامه جواب نامه*، مخ. ۱۵۵۔

۴۴۔ هم دغه کتاب ، مخ. ۱۵۳۔